# فکر کوئ چې تاسو یا ستاسو ماشوم په شري اخته دی؟

## که تاسو فکر کوئ چې تاسو یا مو ماشوم په شري اخته دی، باید څه وکړئ

**شری معمولا له تبې، ټوخي، بهېدونکې پوزې او د سترګو د سوروالي سره پیل کېږي چې وروسته بیا دانکۍ هم را پورته کېږي. که ستاسو په کورنۍ کې کوم څوک د شري نښې نښانې لري:**

**د کورنۍ له هغو غړو څخه یې لرې وساتئ** چې ناروغ نه دي.

**د کورنۍ ټول غړي باید په کور کې پاتې شي** تر څو ستاسو ګاونډیان یا ستاسو له کور څخه بهر نور خلک ناروغ نشي.

**سمدلاسه یوه ډاکټر یا روغتون ته زنګ ووهئ** او ورته ووایاست چې ستاسو په کور کې کوم څوک په شري اخته دی. هغوی به تاسو ته لارښوونې وکړي.



## کله باید بېړنۍ خونې ته لاړ شئ

**که چېرته په ناروغۍ د اخته کس ناروغي په تدریج سره سختېږي یا له پورته ذکر شویو نښو نښانو څخه کومه یوه لري، نو ژر تر ژره یې د روغتون بېړني ډیپارتمنټ ته بوځئ.**

**انتظار مه کوئ.**



**د اوبو کموالی**
(د پوزې او خولې وچېدل، کمې تشې متیازې کول، له اوښکو بهېدو پرته ژړا)



**د ساه اخیستو یا ټوخي پر وخت د درد احساس**



**په سختۍ سره ساه اخیستل**
(یا له نارمل حد څخه چټکه ساه اخیستل)



**د خولې چاپېره آبي رنګ، د انرژۍ کموالی یا پ خوراک کې ستونزه**
(د کم عمره ماشومانو لپاره)



**ګنګستیا، د هوښ کموالی یا شدیده کمزورتیا**



**دوامداره تبه یا د سر درد**

**له کوم چا وغواړئ چې ستاسو له رسېدو د مخه زنګ ووهئ. روغتون ته ووایاست چې هغه شخص را روان دی کوم چې کېدای شي په شري اخته وي.**